SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارګان
محلورم کال بو اتیایمه ګنه پرله پسې (۲۷۱) یکشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د رجب المرجب (۲۲) د۱۳۷۸هـ ش کال د لړم دمیاشتي(۹) د۱۹۹۹میلادي کال د اکتوبر (۳۱)

به منظور مساعدت به هموطنان عزیز:

یکمقدار کافی گندم نازلتر از نرخ بازار عرضه میگردد

امارت اسلامي افغانستان بمنظور مساعدت به هموطنان عزیز و جلوگیري از صعود قیم مواد ارتزاقي یکمقدار کافی گندم را به نیازمندان و مستحقین به قیمت نازل از نرخ بازار عرضه میدارد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : امارت اسلامي افغانستان با در نظر داشت ضرورت و نیاز هموطنان عزیز و جلوگیري از صعود قیم مواد ارتزاقي بخصوص آرد ، گندم در بازار یکمقدار کافي گندم سفید اعلی پاکستاني را در اختیار جمعیت عالي افغاني سره میاشت قرار داده است .

یك منبع جمعیت عالي افغاني سره میاشت گفت : قرار است گندم متذکره در قدم نخست به ماموربن مستحق وزارت خانه ها و ادارات امارتي از قرار في بوجي ۹۸/ کیلو گرامه در بدل مبلغ نهصد و هشتاد و پنج هزار افغاني توزیع گردد.

منبع علاوه کرد،در قدم ثاني مردم مستحق و نیاز مند شهر کابل نیز در نظر گرفته شده و توزیع گندم براي کارمندان مستحق امارتي سر از روز یك شنبه ۲۲ رجب المرجب آغاز میگردد.

منبع متذکره گفت: از تمام وزارت ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسي ! ، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بگذارید.

عالیقدر امیر المومنین د اسامه د مکتوب په ځواب کې :

اسامه افغانستان ته پناه راوړي او په خپله خوښه تللای شي

په خپله خوښه

زموږ وظیفه دا نه ده چي حتماً به اسامه یوه هیواد ته د محاکمي لپاره سپارو

کندهار : د اسامه بن لادن د هغه مکتوب په مقابل کي چي بوه ورځ وړاندي بي امیر المؤمنین ته په کښي ویلي وو چي هغه له افغانستان څخه وځي او ورته مرسته غواړي . عالیقدر امیر المؤمنین ویلي دي چي موږ به لمړي له هغه وپوښتو چي ایا دا خبره چي دي له افغانستان نه وځي هغه د وهم له مخي کېږي که په خپله خوښه بي کېږي، که چیري نوموړي دغه خبره ددغه وهم په وجه کړې وه چي اسلامي امارت په هغه د فشار په مقابل کي تسلیم او یاله افغانستان نه وشړي نو موږ به هغه ته اطمینان ورکړو چي داسي نشي پیښیدلي او که چیري هغه دا خبره په خپله خوښه کړي دي نو بیا به موږ د نوموړي د تګ لاري چاري وسنجوو .

همدارنګه عالیقدر امیر المؤمنین دا خبره هم کړیده چي زموږ وظیفه دا نه ده چي حتماً به اسامه یوه هیواد ته د محا کمي لپاره سپارو ځکه چي اسامه په خپله خوښه افغانستان ته پناه راوړي او په خپله خوښه تللي شي.

پنج تن از قاریان طي مراسمي دستار بندي گردیدند

پنج تن از قاریان دوره اول دارالحفاظ شهید مولوي نصر الله منصور دیروز طي مراسمي در شهر گردیز دستار بندي گردیدند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت پکتیا خبر میدهد: در مراسم دستار بندي بعد از آنکه آیاتي متبرکه قرآن عظیم الشان قرائت گردید محترم مولوي عبداللطیف منصور وزیر زراعت ، محترم عارف الله عارف معین وزارت مالیه و محترم مولوي محمد عمر حنیف رئیس دارالانشا ستره محکمه و محترم مولوي عبدالکریم رئیس معارف ولایت پکتیا طي صحبت هاي شان پیرامون فضیلت ... حفظ قرآن عظیم الشان در دنیا و آخرت همچنان برنامه هاي امارت اسلامي ... براي قاریان مذکور توفیق مزید بخاطر تربیه سالم فرزندان مؤمن و مسلمان کشور از ص ٤

د فوایدِ عامې محترم وزیر د کابل - جلال اباد لویې لارې د پخولو بهیر وکوت

د فواید عامي محترم وزیر پرون د جلال آباد د سرخاب د پله په برخه کي د کابل جلال اباد د لوې لارې د پخولو کار بهیر وکوت .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د فواید عامي وزیر محترم ملا الله داد شهید وړور پرون په داسي حال کي چي ددغه وزارت د سرك جوړولو عمومي رئیس محترم مولوي عبدالروف ابدالي ورسره و د جلال آباد د سرخاب د ٤ مخ

د هیواد د لوړو زده کړو ځانګو ته د شمولیت لپاره :

د کانکور آزموینه د روژې تر میاشتي مخکي اخیستل کیږي

د لوړو زده کړو په وزارت کي د کانکور د آزموینې اجرائیوي کمیټي : هیواد د لوړو تحصیلي موسسو د ۱٤۲۱ هجري قمري کال د نوي شاملانو د کانکور د ازموینې د اخیستلو د حوزو پلان او پروګرام تصویب کړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د کانکور د آزموینې د اخیستلو په برخه کې د دقیق ډسپلین د ... او د کانکور د ازموینې د اخیستلو ٤ مخ

پل گور دره ولایت سمنگان مجدداً اعمار و مورد استفاده قرار گرفت

پل گوردره ولایت سمنگان که توسط مخالفین تخریب و منفجر گردیده بود اخیرا از بودجه انکشافي امارت اسلامي افغانستان مجدداً اعمار و مورد استفاده قرار گرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت سمنگان خبر میدهد : پل متذکره که مرکز ولایت سمنگان را به ولسوالي دره صوف آنولایت وصل مینماید قبلاً در اثر اعمال خائنانه و غیر اسلامي مخالفین توسط مین انفجار داده شده بود که اخیراً ص ٤

د خوست په ولایت کي :

د نور روغتون د سترګو سرویس پرانیستل شو

د روغتیایي خدمتونو په لاره کي د اسلامي امارت د خیر غوښتونکو اقدامونو له مخي په دي وروستیو وختونو کي د نور روغتون د سترګو سرویس د یو لړ مراسمو په ترځ کي د خوست په ولایت کي پرانستل شو او د سترګو د ناروغانو د درملنې لپاره د خدمت وړ وګرځید.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغو مراسمو کي چي له همدي امله ددغه ولایت د ٤ مخ

شوراي نظامي مسؤولین و قوماندانان جهادي ولایت کندز دایر گردید

شوراي نظامي مسؤولین و قوماندانان جهادي ولایت کندز دیروز در قرارگاه نظامي ولایت کندز تحت سرپرستي محترم ملا فاضل آخند لوي درستیز وزارت دفاع دایر گردید.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت کندز خبر داد : در شورا بعد از آنکه آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردید روي یکسلسله مشکلات نظامي و پرابلم هاي مهاجرین و آواره گان ص ٤

مسافرت سه روزه محمد خاتمي به فرانسه پایان یافت

مسافرت سه روزه محمد خاتمي رئیس جمهور ایران به فرانسه دیروز پایان یافت. وي در جریان سفرش در فرانسه با مظاهرات شدید اعتراض آمیز در رابطه به وضع حقوق بشر در ایران مواجه گردید.

رهبري این مظاهرات را مدافعین حقوق بشر تبعیدیان ایراني و طرفداران گروه هاي مخالف رژیم ایران به عهده داشت که علي الرغم تدابیر شدید امنیتي پولیس فرانسه صورت گرفت .

هنگامیکه رئیس جمهور ایران پس از ایراد بیانیه مجمع عمومي یونسکو را ترک میگفت زني خطاب به او فریاد زد قاتل ، تروریست و در همان حال یك بادنجان رومي به موتر حامل وي پرتاب نمود. ص ٤

الحاج استاد قاري برکت الله «سلیم» و خدمات فرهنگي برادر احمد الله

هدف من از ثبت کست هاي استاد این است که از ضایع شدن مصؤون مانده و نسل به نسل مورد استماع و استفاده قرار گیرد

انجنیر احمد الله

کار فرهنگي کاریست با تعهد و مسؤولیت که با هیچ نوع ترازوي مادیات به سنجش آمده نمي تواند و چنین هم باید باشد. چه اگر کار فرهنگي با مقیاسات مادي وزن گردد و با شخصیت فرهنگي از آن چشمداشت مادي داشته باشد اثر فرهنگي اصالت خویش را از دست میدهد .

برادر احمد الله یکي از شخصیت هاي فرهنگي است که کار فرهنگي را نه تنها با علاقمندي و ذوق و شوق فراوان انجام میدهد ؛ بلکه متعهدانه نیز عمل مي نماید.

مخصوصاً خدمات برادر احمد الله در قسمت ثبت و تکثیر قرائت هاي محترم الحاج استاد قاري برکت الله «سلیم» از ارزشمندي خاصي برخوردار است .

وي قرائت هاي استاد را به سبك هاي مختلف ثبت و بدین ترتیب بدسترس اکثریت علاقمندان قرار میدهد.

او این کار فرهنگي را خاص به خاطر رضاي خداوند «ج» و باقي ماندن آثار محترم استاد در روي نوار انجام میدهد و هیچنوع چشمداشت مادي از آن ندارد.

جهت آشنایي بیشتر با کارکرد هاي فرهنگي برادر احمد الله مصاحبه، کوتاهي با وي انجام داده ایم که توجه شما عزیزان را به خوانش آن معطوف میداریم.

او در آغاز خود را چنین معرفي نمود : انجنیر احمد الله مالك «احمد ورکشاپ» واقع ایستگاه موي مبارك تایمني واټ ص ٤

د کولمبیا یوه تبعه د یو سلو څلویښتو تنو ماشومانو په وژلو اعتراف وکړ

د کولمبیا یو تبعه پرون په تیرو پنځو کلونو کي د یو سلو څلویښت تنو ماشومانو په وژني اعتراف وکړ . د ټپوالو خبري منابعو د ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د روس شرمیدلی غلامان

د افغانستان د اسلامی امارت مخالفینو د پخوانی جهاد په وخت د سرخوړلی شوروی په دښمنی کی ډېر حساسیت ښکاره کاوه او ورسره به یې امریکه هم تکوله دواړه به یې استکباری ځبېباکونه بلل، په دغه هکله د مخالفینو پروفیسورانو استاذ سیاف او استاذ ربانی انجنیر حکمتیار او ورته څیرو ډېری اوږدی او په لوړ کچ ادبی ګرځندونی کولی چی د هغه وخت مجلی، ورځ پانی او ټولی خپرونی ورباندی ډکی شوی، بارونه او امبارونه ورته جوړ دی؛

دوی به همدا رنګه د نړی په هر ګوټ کی په مظلومو مسلمانانو د ظالمانو ظلمونه غندل او له هغوی سره به یې له هر ځا مخکی له ۲ مخ

د میلا سوویچ د ګوښه کیدو په خاطر :

په یوګوسلاویا کي پراخي مظاهري وشوي

تیره شپه هم د یوګوسلاویا په بیلابیلو ښارونو کي ددغه هیواد د جمهور رئیس سلوبودان میلوسوویچ د ګوښه کولو په خاطر پراخي مظاهري وشوي.

د میش اوچاچك په ښاروټو کي کابو ۲۵ زره تنه پداسي حال کي چي د بدلون لپاره د اتحاد په نامه د مخالفینو د اتحاد مشران بي په مخکي روان و واټونو ته راوتل ددغه اتحاد ٤ مخ

په چیچن کي سختي نښتي دوام لري

د چیچن د مبارزو ځواکونو او د روسي د اشغالګرو عسکرو تر منځ سختي نښتي پرون هم د چیچن په جمهوریت کي دوام درلود .

د چیچن د جمهوریت له مرکز ګروزني نه رارسیدلي رپوټونه ځرګندوي چي ګروزني ته نژدي د چیچن د مهاجرینو په یوه کاروان باندي د روسیي د الوتکو د پرونیو وحشیانه بمباریو له امله لږ تر لږه پنځوس تنه شهیدان شویدي

په رپوټونو کي ویل شوي دي چي د روسیي د الوتکو د توغندیو د برید له ٤ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
دیوي ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

کچې پورته د ګڼ غم او درد څرګندونې کولې!

په دغه ترتیب سره د پخواني جهاد په ډګر کې د مسلمانانو په منځ کې د دوی زیات درناوی کېده او د هر چا سینه ورسره وه! کله چې د مخلصو مجاهدینو او شهیدانو کرامو (رحمهم الله تعالی) د قربانیو له برکته شوروي اتحاد مات شو او د هغه د سرخوړلیو مزدورانو له منځه تللو وروسته په هیواد کې د اسلامي دولت په نوم نظام منځ ته راغی نو د هیوادوالو او نړۍ د مسلمانانو خوشالۍ بېخي بې ساري وه او په دغو مشرانو پورې یې یې شمېره هیلې تړلې وې،

له بده مرغه ددغو جهادي پروفیسورانو، انجنیرانو او ورته څېرو ناڅله پټ نیتونه، بدعزائم، د اقتدار مینه، ځان غوښتنې او بد باطن په دغه وخت راڅرګند شو، د قدرت غوښتنې په نیشه کې یې نه یوازې کابل ونړاوه بلکې د هیوادد کرهڼې، مالدارۍ او اقتصادي بنسټونه یې له بېخه ونړول، د اسلام، جهاد او مجاهد د نوم سپکولو لپاره یې کفري نړۍ ته عملي شواهد په لاس ورکړل!

کله چې د طالبانو اسلامي تحریک د خپلو دېندارو هیوادوالو د سر و مال، عزت او ناموس د ژغورلو لپاره ورپسې راپورته او په هیواد کې یې د دوی غمېزه نړدې پای ته ورسوله، نو د اقتدار له نیشې نه ولوېدل نو بیا د یوه احمق ځېل خپسه وربانډې کیناسته، حکمتیار خوارکې یې په چل ول ایران ته ورساوه او هلته اوس د سیاسي بندي په څېر ژوند کوي، کله چې د خپرو اجازه ورکړه شي د ایراني مشرانو په لمسون د افغانستان په اسلامي امارت پسې سپکې سپورې وايي، کله یو څه او کله بل څه د ا پلټنو په څېر وايي، هغه کوي چې خپل نړبدلي ګوند بیا راژوندي او مطرح کړي خو داوري به شړي شي او که نه ؟

دلته ځېل نیولي پروفیسوران له خپل ټول علمي، جهادي، افغان او ان له اسلامي حیثیت نه تېر شول د احمقانه او نیمګړي ځېل د سر ته رسولو لپاره یې د هغو طرفونو د غلامۍ کړۍ غاړې ته واچولې چې یو وخت یې د خپل ایمان او عقیدې دښمنان بلل، دوی اوس د هغه روس غلامان دي چې هغه د شوروي په میراث ناست دي .

د شوروي د هغو پاتې شونو کمونستانو غلامان دي چې د منځنۍ اسیا د مسلمانانو پرګنو پر سر لا اوس هم مسلط دي، دوی د هغو هندوانو غلامان هم دي چې د پخواني جهاد په وخت کې د اسلام او هیواد په ضد له شوروي سره په یوه سنګر کې پراته وو، دوی د هغو ایراني شیعه ګانو غلامان هم دي چې استاذ سیاف یې اوس هم کافران ګڼي !

د احمق ځېل پایله یې دا شوه چې د دوی محسن ، غټ مرستندوی او د سنګر ملګري اسامه ته د امریکا ګواښونه په ټینګو سترګو تایېدوي، د روس په پیشنهاد په دردېدلو او دېندارو افغانانو باندې د کفري نړۍ اقتصادي بند بزونه تایید وي، د چیچنیا په مسلمانانو د دروسي ځواکونو تیرې او ظلمونه په ګونګه خوله تایېدوي ځکه چې اوس دوی دروس غلامان دي، د هند وانو حکومت چې د آریانا افغان هوایي شرکت الوتنې بندي کړي، افغاني تاجرانو او عامو هیوادوالو ته یې زیان ورسیده دوی د هغــــــه هم تایېدو کړ ځکه چې د هندوانو هم غلامان دي او څــــوک چې د هند غلام شي د هغه په مسلماني کې به څه مزه وي ؟

استاذ سیاف اوس په ټینګو سترګو د مشهد له راډیو سره هم مرکه کــوي ده چې یو وخت به یې د ایران پــه هر څه پوري خندل، ټوکې او مسخرې به یې وربانډې کولې!

په مرکه کې یې د اسلامي امارت په ځواکونو بد او رد ویلي دي چې د جګړې په ډګر کې یې وحشیانه عمل کړی دی، دوی به په کابل کې خپل وحشیانه عمل هیر کړی وي او که به یې اوس هم معقول ګڼي ؟

د اوسنیو جګړوټول وحشت، بربادي او تباهي خو د دوی په غاړه ده ځکه چې د شیطان د امر او ځېل سرته رسولو لپاره دا ټول مسلمان هیوادوال کوي!

وایي چې د احمق دومره تیری په بل نه کومي لکه په خپل ځان»

یا الله ! له ځېل اوړانده حماقت نه پناه راکړه!

افغانستان باندې د اقتصادي بندیزونو یوه تحقیقي څېړنه

محمد الله نورستاني

حقیقت دا دی چې ګران هیواد د مختلفو تعزیراتي بندیزونو په کلابندۍ کې حصار دی دی سره غرب افغانانو ته د بنیاد ګرایی او د سوچه اسلام په جرم تعذیب ورکوي د اسامه نشه یې مواد و ، د بشري حقوقو یا د ښځینه حقوقو مسئله نده ولې چې اسامه خو تر طالبانو پخوا هم دلته و لیکن د تعزیراتو خبره یا قاعده بیا هم کېدله نشیات او کوکنار هم په افغانستان کې د ظاهر شاه د وخت څخه رواج و د ښځو متعلق پالیسي خو یوائې دا نه چې دا اسلامي اصول دي بلکې د افغانانو دد ودونو او عنعناتو عین تقاضه هم ده په هیواد کې دلته او د هجرت په وخت کې د هیواد څخه د باندې کماحقه ښځینه لیسې او پوهنتونونه چېرې وو ؟

اوس خبره دا ده چې تر کومه د بندیزونو مسئله دوهغه زمونږ په واک کې نده که امریکا یا کوم بل هیواد د تعزیراتو د لګولو شوق لري نو خامخایي لګوي زمونږ په وس کې چې څه دي هغه دا دي چې یو آزاد او غیرتي قوم د بل چا د بندیزونو د ویرې له خاطره خپله سلامتي او وجود په خطره کې نشي اچولی.

بلکې تاریخ شاهد حال دی چې کله هم بندیزونو یو هیواد ندی ختم کړی بلکې ملتونه لا ترقي ته لاره پیدا کوي په روس کې ۱۹۱۷ د کمونستي انقلاب د راتلو نه وروسته ۲۰ کالو پورې سرمایه داري نړۍ په روس بندیزونه ولګول مګر نتیجه یې هیڅ وه ، په کیوبا د ۱۹٦۲ کال څخه را پدیخوا بندیزونه دي لیکن امریکې ورته هیڅ نقصانونه رساوه، ۱۹٤۹ د چین انقلاب څخه وروسته ۳۰ کالو پورې چین چا په رسمیت ونه پیژند بلکې مکمل تجارتي مقاطعه ورسره وشوه غربي نړۍ لا څه چې پدې مشق کې روس هم ورسره شریک شو لیکن هیڅ ګټه یې هم ونکړه، جنوبي افریقا ، لیبیا ، ایران ، عراق او برما کوم یو هیواد دي چې د امریکې د تعزیراتي بندیزونو بیکار شوي ندي بلکې دې بندیزونو سره داخلي پیداوار کې پرمختګ او هیواد ورسره خود کفا کیږي د عراق سره د جنګ له وجې په ایران د بندیزونو په وخت کې داخلي پیداوار دومره صلاحیت پیدا کړ چې هغومره یې په عادي حالاتو کې ۱۰-۱۵ کالو کې هم نشو پیدا کولی په پاکستان په ۱۹٦٥ او ۱۹۷۱ کې بندیزونه ولګېدل بیا له ۱۹۷۹ څخه را پدیخوا د اتومي اسلحو په جرم په هغوی د بندیزونو یا وجود بیا هم د ۱۰ کالو په موده کې پاکستان اتومي صلاحیت پیدا کړ کوم چې دغه صلاحیت بخپله امریکې او روس د ۱۰ کالو په دوچند وخت کې هم نه و پیدا کړی همدا اوس هند او پاکستان ته د اتومي چاودنو د تمرینانو په وجه بندیزونو څه نقصان ورساوه؟ د کسنجر له قوله په تیرو ۵۰ کلونو کې د دنیا ۷۲ هیوادونه داسې دي چې یو وخت نه بل وخت هغوی د امریکې د تعزیراتي بندیزونو بیکار شوي لیکن څه اثر یې هم ندی کړی .

بلکې څومره چې هغوی په زور او شور سره د بندیزونو چغې وهي هغومره مونږ ته نقصان نشي رسولای دغه خبره مونږ د یو څو دلایلو په ضمن کې یو څه واضحه کوو:

۱- مونږ چېرې د نړیوال وجهي صندوق او د نړیوال بانک قرضدارانه یو چې د هغوی د سود لاندې راشو .

۲- چاسره مونږ بین المللي تجارت یا په هیواد کې غیر ملکي مال ګذاري هم نلرو چې مونږ ته څه نقصان ورسي.

۳- په مونږ د تعزیراتو له وجې د امریکا ، جاپان او د چین صنعت ته هم نقصان رسي هغه د چا خبره کله زه یو څو ډالره قرضداره وای غم به زما و اوس که په ملیاردونو او اربونو ډالره قرضداره یم نو بیا د یور ورکوونکې غم دی ولې چې د هغه سرمایه بنده ده معامله یو طرفه نه بلکې دوه طرفه ده د هغوی تجارتي مال خریداري ته هم زیردسته صدمه رسي.

٤- افغانستان د جغرافیوي ، اقتصادي ، سیاسي او نشه یې موادو له امله د اسیا د زړه حیثیت لري.

٥- د اقتصاد او تجارت له لحاظه هم د خپل موقعیت په وجه د یو اهم سار کیټ حیثیت لري چې څوک یې له نظره نشي غورځولای بلکې زیات خلک مونږ ته محتاجه دي

٦- امریکا ، روس ، د منځنۍ اسیا نوي ازاد شوي جمهوریتونه پاکستان ، ایران او هند ټول دګازو د پایپ لاین او نورو تجارتي معاملو کې مونږ ته احتیاج لري.

۷- بلکې دې سره به مونږ خود انحصاري او خو د اعتمادي ته لاره پیدا کړو او پخپلو پښو ودریږو خو ضرورت ددې خبرې دی چې د تجارت او اقتصاد ماهرین او سرمایه داره طبقه هیواد ته راشي او دلته کار وکړي.

۸- کله امریکا او نور هیوادونه پر مونږ د بندیزونو لګولو طاقت لري نو مونږ هم الله لرو ١٤ کلن جهاد کې چې له هر ... لري سره ګران هیواد بندیزونه و چاروزي را کوله ؟

۹- امارتي سفحه باندې خو دلته له پخوا څخه د رعیت لپاره د بهر څخه څه اخستل او واردول نشته چې مونږ متاثره شو بلکې دغه محنتي ملت د ۲۱ کالو څخه را پدیخوا د خپل لاس د رزق په خوړلو عادي دي

۱۰- نړیوال بانک او نړیوال وجهي صندوق کله هم په اخلاص سره مسلمانانو سره کار نکوي بلکې دا اداري جوړې شوي د مسلمانانو د افلاس او استحصال لپاره دي تر څو چې د قرضونو او رفاهي کارونو په نوم خلک تباه کړي .

۱۱- دې بندیز څخه افغانستان ٥ فیصده هم متاثره کیږي نه ولې چې طالبان خو هغوی له پخوا څخه په رسمیت نه پیژني مخالفینو ته خو د بندیز څخه زروسته هم هغوی یا قاعده پیسې ورکوي او ملت خو له پخوا څخه د خپل محنت ماحصل خوري او له ۲۱ کالو را پدیخوا کوم بین المللي تجارت هم وجود نلري پاتې شو د موســاتو معامله د هغوی خو دلته خپلې شخصي ګټې دي بله دا چې هغه حکومتي نه بلکې شخصي اداري دي چې په هیڅ صورت سره د افغانستان پرېښودلو ته تیاري ندي.

۱۲- مونږ ته ضروري شیان هسې هم په قاچاق راځي او بیکاره خبره ده چې په اوسنۍ دنیا کې د قاچاق مخه څوک نشي نیولای

په هر حال د غرب د غو بندیزونو له وجې د یو قوم په سلامتي او آزادي سودا بازي کول هم چنداني د دانشمندۍ عمل ندی ځکه نو مونږ وایو :

۱- د بل چا د مفاد خوندي ساتنې څخه د خپلو حقیقي مفادو ساتنه ضروري دي.

۲- اوس په نړۍ کې لویو لویو طاقتونو سره د تعلقاتو معیار په متقابلو مفادو باندې مبني وي .

۳- پدې حالاتو کې لکه څنګه چې زمونږ ، امریکا او نورو غربي هیوادونو ته ضرورت دی هغومره د امریکا او غربي نړۍ مونږ ته هم ضرورت دی په تیره بیا د تروریستي او نشه یې موادو په برخه کې خو بیخي مونږ ورته زیات اهمیت لرو .

٤- پدې زمانه کې چا سره تعلقات طفلانه نه بلکې په متقابلو مفادو باندې مبني وي .

٥- روس د منځني آسیا نوي ازاد شوي جمهوریتونه ، پاکستان، هند او ایران خو په رانلونکې کې د معیشت او د تجارت په نړۍ واله منډه کې په هر حال مونږ ته زیات محتاجه دي.

٦- په تعلیم ، روغتیا ، صفایي او داسې نورو په زړه پورې نوموړو باندې د ګران هیواد پنځه زره کلن د آزادۍ تاریخ سپوتاژ کول هم څه د پوهې عمل ندی.

۷- که خپلواکي او آزادي ، په هیواد کې وي نو د تعلیم او پرمختګ زمینه یو وخت نه بل وخت مساعده کېدای شي او که خپلواکي مو له لاسه ورکړه بیا به هیڅ نوي .

۸- ... اسلامي که هر څومره د رفاهیت، سهولت او ترقي ژوند لري لیکن د غلامۍ او ماتحتۍ طوقونه یې غاړې ته پراته دي یو سړی خپلې میرمنې ته چادري او حجاب نشي اچولی د اسلامي نړۍ نامتو لیکوال د علامه ابوالحسن علي الندوي او د عبدالله عزام شهید له قوله د داسې غلامۍ له ژوند څخه د هندوکش د غره په لمن کې د بدویت او اطرافي ژوند چې د حریت او آزادۍ ژوند وي ډېر ښه دی د هغه ژوند څخه چې مرفه او د سهولت ژوند وي خو ، سړی د غلامۍ او د رقیت په شپېو کې شپې او ورځې تیروي .

په افغانستان کې د تېر شاهي نظام، ملي حاکمیت، پارلمان او د تېر دموکراسۍ پال حکومت څرنګوالي ته یوه کتنه

ر.م.و ابراهیم خیل

دریمه برخه

د محمد ولي ځلمي ځواب چې په دغه برخه کې لا پخوا پلان شوي و په ډېره سپکه خوله او لهجه وایي «بیدل، یو مړ ، او دمړیو ستاپونکي، ویرجن ، بې ارزښته، بې معنی او بې مفهومه قافیه جوړونکي ناظم دی».

ظاهر شاه کله چې د بیتاب نه په دغه برخه کې څرګندوني غواړي، بیتاب وایي :

« درست نمیدانم اعلیحضرت شاه بلند فرما در مورد شخصیت الا مرتبتي چون حضرت ابو المعاني میرزا عبدالقادر بیدل «رح» از کسی جویای احوال میشو ند. که خود به صفت یکي از تلامیذ بنده حتی بلسان مادري خویش پشتو چنانچه شاید تسلط نداشته و ندارد ، پس از کجا که به عمق کلام د شوار معنی ابوالمعاني بیدل «رح» احتوا تواند داشت . این درست بمشابه آن بوده باشد که در شب تار عصا از کوري بطلبند »

ظاهر شاه چې په حقیقت کې د بیتاب « ملک الشعرا » ځوروني او خوابدي ته پلمه غوښته نو داسې یې و ځوراوه او خوابدي یې کړ « اقای بیتاب یا سخن درست ګوی یا خموش، بیش از این نباید جلو کاروان نهضت جوانان پیشرو را به همچو خشونت ها و لجاجت های بیجا ګرفت »

د ظاهر شاه د واکدارۍ په وخت کې ډېرې سړې تودې صحنې ، ضد او نقیض فرمتونه را مینځ ته شول . یو هم د ولس په ګټه نه وو . بلکه په دې تولو تودو سړو صحنو کې د ولس په خوله لاس اېښودل شوي . او قومي رجال د قنفسي مرزانو په څېر په زندان کې ساتل شوي.

ظاهر شاه خپله ٤١ کلنه واکمني ، په بله ژبه د پلار د واکمنۍ په ګډون د اقتدار ٤٥ کلنه دوره څه د خپل تند مزاج ، سخت دریځ اکا محمد هاشم خان د غوښتنو په تر سره کولو کې ، څه موده د بل موروا کا : شاه محمود خان په پخلاینه او څه موده هم د اکا د زوی : محمد داود خان لویې غوښتونکو هیلو په ترسره کولو ، د صدارت د کرسۍ د ډالۍ له یوه لاس بل لاس ته بدلولو را بدلولو له لارې یوازې د خپلو کبرجنو زوروړو او سرور و خپلوانو د غوښتنو په ساتلو کې تېره کړه او وطن ته یې د حکومت د خدمت په ځای د خپلې کورنۍ د مجهول سیاست په پرله پسې تاوده و له پرده اچولو پرته نور څه ندي کړي .

د نادرشاه له مړینې وروسته ، د ظاهر جلوس ته د خلکو د بیعت په مهال د ملک د پوهانو ، لیکوالانو ، ملي مشرانو علماوو روحانیونو د یوې درویشت کسیزې جرګه ګۍ په خوله حکومت ته داسې وړاندیزونه شو چې : د امان الله او نادرشاه له کړو په سبق اخستو ، بیایي د ولس هیلو او غوښتنو ته په پاملرنه د یوې پیاوړې شورۍ له لارې ، د دین مذهب حکمونو او لارښونو ته په درناوي د لوموړیتوب په سترګه وکتل شي.

مــوږ سلطنت او سلطان منو خو په یوه شرط چې زموږ اسلامي کلتور ددود دستور ، ستر حیا خوی خصلت ، اخلاقي ارزښتونو ته د کفري نړۍ د فیشن سترګې چه هغوی یې مدنیت بولي برګې نشي. **ځکه زموږ قوم ، ژبه دین او مذهب هماغه دي چې وو څه بدلون په کې ندی راغلی او انشاء الله نه په کې راتلای شي ددې په خاطر چې سلطان د افغان اسلامي ټولنې د مشر په توګه د ولس د وګړو په زړونو کې خوږ وي ځایي چې قوم ولس ته د ملک په مشرتابه**

مشرۍ کې پوره برخه ورکړي په پوره ډاډ د خپلو دیني او ملي هیلو د ترسره کولو په لار کې د سلطنت سره په زړه پورې ملګرتیا وکړي .

حکومت غداري وکړه دې خبرې د سردار محمد هاشم خان د حکومت د غرور سره اړخ ونه لګاوه ، د هغه غرور یې لا زیات کړ او دا ټول کسان یې د خوشحال خان خټک د دغې وینا په مطابق « د ګناه مې سر رشته نده معلومه - خو دا خپل هنر د ځان وینم تاوان » د مشروطه غوښتنې په ګناه په بېلو بېلو پلمو ونیول او بې محکمې یې د سیاسي تور په کتار کې کلونه کلونه په زندان کې وساتل.

دلته د هغو له جملې څو تنو ته ګوته نیسو لکه : غلام محی الدین «انیس» عبدالهادي «داوي» محمد انور بسمل ، محمد اسلم بسمل محمد ابراهیم صفا ، ابراهیم خلیل ، محمد علم شیواري ، عبدالرحمن تره کی ، امیر محمد سهاک ...

پاتې لري

یاران اندك رنج

حزین

عادت محبان صمیمي و مخلصان همیشگي برین است که ندرتاً با کلمات شیوا و شیرین و سخنهاي مؤدبانه طرحهاي مزاحیه هم رد و بدل مي کنند البته شوخي ایکه قاعدتاً با روحیه ادب و فرهنگ اسلامي سازگار بوده و از فرط محبت و مایه، اخلاص و کمال الفت سرچشمه میگیرد.

مشکل عمده و اساسي در روابط و علایق دوستانه و مروت و مراودت جانبین فقط اندك رنجي عدهٔ محصور از اهل محبت است، رویهمرفته با سرگرمي هاي طبعي و شوخي ادبي کمتر آشنا هستند و فقط با نثار شدن یك جمله، مزاحیه تمام بخش هاي محبت انگیز و گذشته خوب و سابقه درخشان خود را یکسره فراموش نموده و شعار رنجش را اختیار کرده و متأثر میگردند و بهترین دوست دیرین خود را مهجور ساخته و در ساحل جدایي و فرقت بسر مي برند که نباید چنین باشد .

ما به این نظر هستیم که سخنهاي واهي و یاوه سرایي بنیاداً مرفوض و با آداب و سجیه، اخلاق یك مسلمان منافي است و هکذا از گفتن کلمات رکیك، نا مطبوع و چرندیات جداً مجتنب باشیم و راه اعتدال را در کلیه اقوال و افعال برگزیده مگر در هنگام صحبت و گفت و شنود دو دلداده ، دو یار و دو نفر دوست بمعني واقعي از خوشذوقي و مکالمه مسالمت آمیز (طرح شوخي ادبي) اجتناب ناپذیر است روي این نباید یاران یار و محبان دیرینه و هم مسلکان بي آلایش از تغزل جانب مقابل دلگیر شوند و همچو اصطلاحات در انجمن ادبي ما بي‌شمار بکار رفته است .

زیرا هدف، محبت قلبي است و اعتبار براي معاني است نه الفاظ .

د قرباني جذبه

عبدالباري «غیرت»

د قرباني جذبه له فکره د منصوره راوره
د الې دېوې ژاله کوه طوره راوره
که بې انسان د مخلوقاتو په خدمت کې اوسه
ځان ته خوښي د بندګانو له سروره راوره
غار د حرا مه پیروه د انسانیت په درشل
خدایي الهام د نمرود یاتو له تنوره راوره
د بو اسلام تاکید کوي انجیل تورات او زبور
د نیکمرغۍ ځرک د قرآن پاک له منشوره راوره
په شداندو تکلیفونو د دنیا کېږي مدام
د حوصلې توان له ایوب غوندي صبوره راوره
د مظلومانو په فریاد که دا دنیا شوه ګنه
د مقدس مرام حصول د خدای په توره راوره
په وسایلو باندې نشي ابرهه ګوره
د کابل فتحه له فطري ایمان او اور عراوره
چې دوکه نشې ای غیرته د رقیب په وینا
د حق تمیز دې له خپل عقل او شعوره راوره

تکل

حنیفه زاهد «شاه جویي»

زه په حرم کې زېرېدلې بت خانې ته نه ځم
چې بې بې سوزه رغوي هغې نغمې ته نه ځم
په یوه جلوه چې تېروتلې ماليدلی دی ډېر
زه د وختونو د روغ جنې پلوشې ته نه ځم
له خپلې تندې که مې مرګ شي څه پروا مې نشي
چې په کې زهر ګډوي هغې پيالې ته نه ځم
استقامت او قناعت را ته ازل ښېلی
چې بې په دام کې برېښوي هغې دانې ته نه ځم
په دې جهان کې تور او سپین مې پېژندلي دي ښه
په رڼو سترګو د اغيارو کوڅې ته نه ځم
یو مې منزل یو مې هدف دی ور په منډو بمه
د سست عنصرو زمو لېدلی قافلې ته نه ځم
زړه مې د عزم پرښېلی باندې تړونه وهي
چې مې جزبې غلې کوي هغې ګو ښې ته نه ځم
د مرګ په غېږه کې لوبېږم سر منزل ته ځمه
«زاهده» زه ځان ساتنې پنجرې ته نه ځم

د شعر او ادب لړۍ

تجلی نور

میر عبدالرقیب «جهید»

مي درخشد بدر کامل ماه من — روزن جان کرده فروزان راه من
ماه من تابود پنهان در افق — جلوه گر آمد شبانگاه من
اخــتر شب هاي تارم کرد طلوع — [illegible] اندر قدوم شاه من
نور تابید عارض ماه رخش — روشن ست گردون، روشن راه من
ما و خورشیدم تابیدن گرفت — [illegible] غم خانهٔ جانگاه من
از تجلي نور حق برکائنات — [illegible] همراه من
تابیدم شمه ي ماه تمام — درد و رنجم رفت یکسر آه من
واشگفت غنچه دلم خنده زنان
هان! «جهید» گلها دمید دلخواه من

قطعه

اي کریمي که از خزانهٔ غیب
گبر و ترسا وظیفه خور داري

دوستان را کجا کني محروم
تو که با دشمنان نظر داري

از «گلستان» سعدي»

٩ د افغانستان په اړوند د سیاسي، پوځي اقتصادي او فرهنګي پېښو کرونولوژي

د ١٤١٩ هـ ق کال د جمادي الاخر له نهمې او د ١٣٧٧ هـ ش کال د میزان د میاشتې له اوومې نه
د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر تر ١٨ مې او د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان تر شپږمې نیټې پورې

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ٥ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د سنبلې په ٢٤ مه د «شریعت» اوونیزې خبر ورکړ چې د عالیقدر امیر المؤمنین د خاص فرمان له مخې د عشر او زکوة د ریعه برخه یې د شهیدانو پاتې کسانو او د اسلامي انقلاب معیوبینو ته تخصیص ورکړی ده .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ٦ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د سنبلې په ٢٥ مه د مخالفینو ویاند محمد یونس قانوني د استاد رباني په مشرۍ د کابینې لس تنه وزیران اعلان کړل او هم یې وویل چې هغوی یوه نوې سیاسي اداره جوړه کړې چې سیاسي غونډې او عاجل کارونه به سرته رسوي.

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ٦ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د سنبلې په ٢٥ مه عالیقدر امیر المومنین د هیواد جهادي شخصیت محترم مولوي محمد نبي محمدي سره په کندهار کې د خپل کار په دفتر کې وکتل او په مختلفو موضوعاتو یې ورسره خبرې وکړې د خبر په ترڅ کې محترم مولوي محمد نبي محمدي خپل بیعت عالیقدر امیر المؤمنین ته څرګند کړ .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ٧ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د سنبلې په ٢٦ مه په پېښور کې د «سهار» ورځپاڼې خبر ورکړ چې د تاجکستان په مرکز دوشنبه کې د پاکستان یو هیأت چې مشري یې د پاکستان د کورنیو چارو د وزارت مرستیال رستم شاه مهمند کوله د متحدې جبهې د هیأت سره د افغانستان د حالاتو په باب خبرې وکړې. رستم شاه مهمند په دوشنبه کې د استاد برهان الدین رباني سره هم لیدلي او هغه ته یې د پراخ بنسټه حکومت د جوړېدو ډاډ ورکړی دی.

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ٢٨ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د سنبلې په ٢٩ مه په پېښور کې د «وحدت» ورځپاڼې خبر ورکړ چې د اسلامي امارت یو لوړ رتبه هیأت د مولوي وکیل احمد متوکل په مشرۍ په اسلام آباد کې د جمادي الاول په ٢٩ مه د شنبې په ورځ د افغانستان د مسئلې د حل په باب د پاکستان د ورو ستنیو واندیزونو په وړاندې پوره غواښونه وویل .

د شریعت غږ راډیو د ١٤٢٠ کال د جمادي الاخر په ١٠ مه د ١٣٧٧ کال د سنبلې په ٢٩ خبر ورکړ چې د اسلامي امارت یو هیأت چې د بهرنیو چارو د وزارت د مرستیال عبدالرحمن زاهد په مشرۍ د اوکراین جمهوریت ته تللی و د یو لړ خبرو وروسته بېرته کابل ته راغی .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٢ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د سنبلې په ٣١ مه په پېښور کې د وحدت ورځپاڼې خبر ورکړ چې عالیقدر امیر المؤمنین د ولایتونو د والیانو په نوم یو فرمان صادر کړی دی چې په کې ویل شوي دي : د حکومت مسوولین دي د خلکو تر منځه عدالت وکړي او امر بالمعروف او نهی عن المنکر دې اول په خپل ځان باندې او بیا په کارکوونکو او بیا په نورو خلکو تطبیق کړي .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٣ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په لومړۍ ورځ د بي بي سي راډیو خبر ورکړ چې د پاکستان د نظامي استخباراتو رئیس د امریکا د سي آی ای د سازمان په بلنه امریکا ته رسېدلی دی . نوموړی به په امریکا کې د افغانستان په حالاتو ، او د اسامه بن لادن په موجودیت خبرې وکړي.

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٤ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٢ مه د جمعې په ورځ غزني ستدیوم کې د محکمې له حکم وروسته په یو تن قاتل شاه باداړ باندې د قصاص حکم او دوو تنو شوکمارو هر یو عبدالجبار او کلیم الله باندې شرعي حد تطبیق شو .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٤ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٢ مه د امریکا غږ راډیو خبر ورکړ چې په قبرس کې د افغانانو په ګډون د همایون جریر له خوا یوه غونډه وشوه او د لويې جرګې د جوړېدو له پاره په کې یوه طرحه تصویب شوه.

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٥ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٣ مه د شریعت غږ راډیو په ځپو کې د شنبې د ورځې په ماښامني خپرونه کې د ملکي او پوځي افرادو له پاره د عالیقدر امیر المومنین هغه وینا خپره شوه چې څو ورځې مخکې یې د مخابرې له لارې کړې وه .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٥ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٣ مه د کابل په انټر کانټیننټال هوټل کې د هیواد د ملي سوداګرو دریمه کسیزه دوه ورځنۍ غونډه جوړه شوه د غونډې ګډون **کوونکو ملي سوداګرو ته د سرپرستی شورا رئیس الحاج ملا محمد رباني وینا وکړه او د هیواد ملي سوداګریې په اوسنیو تاریخي شیبو کې د هیواد او خلکو په وړاندې خپلو مکلفیتونو ته متوجه کړل او د اسلامي امارت هر ډول مرسته یې ورسره اعلان کړه .**

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٦ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٤ مه په المان کې د یو شمېر افغانانو دریو ورځنۍ غونډه پای ته ورسېده په دغه غونډه کې د افغان لانجې د سیاسي حل په باب خبرې وشوې

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٧ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٥ مه په داسې حال کې چې په نیویارک کې د ملګرو ملتونو ٥٤ مه غونډه روانه وه د بهرنیو چارو وزارت ملګرو ملتونو ته د احتجاج لیک ولیږه او په ملګرو ملتونو باندې یې غږ وکړ چې د افغانستان څوکۍ یې رباني ته ورکړې ده چې رباني مخکې د خلکو له خوا شړل شوی دی هغه باید له ملګرو ملتو څخه هم وشړل شي.

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٧ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٥ مه عالیقدر امیر المومنین د هیواد د سیاسي ، اقتصادي او پوځي حالت په باب د بي بي سي راډیو سره مرکه وکړه او پوښتنو ته یې بشپړ ځوابونه وویل . په مرکه کې عالیقدر امیر المومنین له امریکا او ملګرو **ملتونو نه وغوښتل چې د چیچن په جمهوریت باندې د روسیې هوایي** بمباری بندې کړي .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٨ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په ٦ مه د کابل د ستري فتحې د دریمې کالیزې په ویاړ د هیواد د شاعرانو په ګډون د شریعت غږ راډیو د کنفرانسونو په تالار کې یوه ستره مشاعره وشوه او د شاعرانو درناوی د سرغاتونو په ورکولو سره وشو. همدارنګه په کندهار کې هم د کابل د فتحې د دریمې کالیزې په ویاړ د طلوع افغان ورځپاڼې په دفتر کې شاعرانو په ګډون یوه مشاعره وشوه او د شاعرانو درناوی د سرغاتونو په ورکولو سره وشو .

د ١٤٢٠ هـ ق کال د جمادي الاخر په ١٨ مه د ١٣٧٨ هـ ش کال د میزان په [illegible] مه د ملګرو ملتونو په [illegible] مه غونډه کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي کوفي عنان [illegible] په وړاندې کړ [illegible] د افغانستان د سیاسي او پوځي [illegible]

باې

الحاج استاد قاري بركت الله «سليم» و خدمات ...

زمانيكه از محترم انجنير احمد الله پرسيدم كه چه انگيزه باعث گرديد تا شما به تهيه كست هاي قرائت محترم الحاج استاد قاري بركت الله «سليم» اقدا نموديد در حاليكه وركشاپ شما طوريكه از لوحه آن پيداست محل ترميم راديو و تيپ ميباشد ، وي در جواب چنين اظهار داشتند : از اينكه من از ساليان متمادي با استاد قاري بركت الله سليم در تماس بودم و هر زمانيكه در نماز هاي پنجگانه خصوصاً در نماز صبح، شام و خفتن كه استاد در مسجد حاجي محمد داد واقع تايمني وات امامت مينمود و قرائت هاي در ضمن نماز و همچنان خارج از نماز و تلاوت از طريق راديو به نشر ميرسيد و اكثراً در بعضي ختم هاي قرآن كريم تلاوت مينمود احساس علاقمندي بنده به سمع قرائت استاد اضافه ميشد و ممكن مانند من تعداد زياد از هموطنان ديگر باشند كه شايق شنيدن آيات كلام پاك به آواز گيراي محترم استاد «سليم» باشند لذا در فكر آن شدم كه چطور بتوانم قرائت هاي تلاوت قرآن پاك را به آواز گيراي محترم سليم صاحب به ترتيب به علاقمندان تقديم نمايم تا هميشه از آن استفاده نمايند. كه يگانه راه آنرا ثبت آواز استاد در نوار كست ديده و بعداً جهت مشوره با استاد موضوع را با خود او در ميان گذاشتم كه خوشبختانه استاد محترم با وجود مصروفيت هاي زيادي در قسمت تدريس قرآن عظيم الشأن به هموطنان و خصوصاً نسل جوان كشور داشتند و دارند به پيشنهاد بنده لبيك گفتند : و از مدت يكسال بدين سو ثبت كست ها را آغاز نموده ام.

محترم احمد الله در پاسخ به اين سؤال كه تا حال به چه تعداد كست هاي استاد را تهيه نموده ايد چنين گفتند : تا فعلاً بيش از دو صد كست از قرائت هاي استاد محترم را تهيه نموده ام كه تلاوت ۳۰ جزء بصورت حدر در (۱۵) كست نيم ساعته و تلاوت ۳۰ جزء در كست هاي يكساعته در ۳۰ كست . و تلاوت ۳۰ جزء به سبك عربي بصورت ترتيل كه جديداً درين اواخر ثبت گرديده است ، درس هاي كه همه روزه براي شاگردان خويش تدريس مي نمايند كه شامل **قرائت و دروس تجويد ميباشد و ثبت آن بصورت دوامدار جريان دارد كه هر جز در ۳۰ كست گنجانيده شده است .**

وقتي از برادر احمد الله پرسيدم كه آيا از تكثير اين كست ها كدام امتياز مادي توقوع داريد يا خير ؟ وي چنين لب به پاسخ گشود، از تكثير كست هاي قرائت هاي استاد **هيچنوع توقوع مادي** از هيچ مرجع و هيچ شخصي نداشته و ندارم اين خدمت بنده به **نزد خداوند متعال اجر دنيوي و اخروي دارد .**

محترم انجنير صاحب در مورد تكثير **كست هاي قرائت قرآنكريم** گفتند كه تا حال تكثير **كست ها** در داخل كشور بوده است و در آينده در نظر دارم كه در خارج از كشور نيز آن را تكثير نمايم.

از محترم انجنير احمد الله پرسيدم كه **كست ها را در كجا و با چه نوع وسايل آن را ثبت و تكثير مينماييد** ، وي چنين گفت : **تا فعلاً از امكانات وسايل تخنكيي دست داشته خويش در وركشاپ** استفاده مينمايم.

محترم احمد الله در پاسخ به اين سوال **كه در آينده ثبت كدام نوع كست هاي استاد را در نظر داريد چنين اظهار داشتند : در آينده در نظر دارم تا ۳۰ جزء قرآن پاك را با ترجمه آن تهيه و به اختيار هموطنان خويش قرار دهم .**

همچنان طوريكه شما اطلاع داريد محترم استاد «سليم» شاعر نيز ميباشد و محترم احمد ضيا «شريفي» در برنامه «زمزمه هاي ادبي» راديو با محترم سليم صاحب در رابطه به اشعارش نيز مصاحبه، انجام داده بودند و محترم سليم صاحب در مصاحبه اش گفتند،كه تقريباً در حدود ۷۰۰ پارچه غزل سروده اند و همه اش را در حافظه دارند و تا حال كدام ديوان وي اقبال چاپ نيافته است بنده در نظر دارم تا تمام اشعار محترم سليم صاحب را كه به آواز خود ديكلمه نمايند در كست ثبت وتكثير نمايم .

محترم انجنر احمدالله در اخير در مورد **هدفش از تهيه آثار محترم استاد قاري بركت الله سليم چنين گفتند :**

هدف من از تهيه آثار استاد اين است كه در قدم اول آثار گرانبهاي استاد از ضايع شدن مصؤون مانده باشد و نسل به نسل مورد استماع و استفاده قرار گيرد ثانياً اينكه استاد «سليم» در سطح جهان اسلام بزرگترين افتخار را براي افغانستان كسب نموده و مقام اول را در مسابقات حسن تلاوت و تجويد قرآن مجيد حايز گرديده اند و در غايت امر به آرزوي اينكه در زمره، كمترين كساني باشم كه محض جهت حصول رضاي رب العزت و خدمت به قرآن عظيم-الشأن مفتخر به اجر و پاداش اخروي نايل گردم.

تهيه كننده : ابو زُلال

اداره كنترول و تفتيش جهت مراقبت از فعاليت هاي مالي و اقتصادي ارگانهاي رسمي ايجاد گرديده است

محترم الحاج مولوي محمد خان رئيس اداره كنترول و تفتيش

شريعت : خوانندگان عزيز! گذارشگر ما اينبار از اداره كنترول و تفتيش امارت اسلامي افغانستان بازديد نموده و ضمن پرسشي از محترم الحاج مولوي محمد خان رئيس آن در مورد كار و فعاليت آن اداره طالب معلومات گرديده است كه اينك شما عزيزان را به مطالعه، آن فرا ميخوانيم .

محترم رئيس صاحب در آغاز گفتند : امارت اسلامي افغانستان در ماه ثور سال ۱۳۳۳ بعد از تصويب شوراي ملي بنام ديوان محاسبات صدارت عظمي ايجاد و در سال ۱۳٤۰ رياست تفتيش اداري صدارت با ديوان محاسبات ادغام گرديد، در سال ۱۳٥٦ ديوان محاسبات برياست مستقل محاسبات صدارت مسمي شد، اين سير كه با جذب كادر هاي متخصص توأم بود ميتود هاي جديد بررسي را نيز معرفي و عملي نمود، در آنوقت سعي بعمل آمد تا بررسي ها پالانيزه و تحت پروگرام هاي معين عملي گردد.

رياست عمومي تفتيش محاسبات در سال ۱۳٥۹ برياست عمومي كنترول و تفتيش شوراي وزيران مبدل گرديد.

در سال ۱۳۷٥ به منظور حصول اطمينان از صحت حسابگري دقيق دارايي هاي عامه و كنترول مؤثر امور مالي و حسابي مراجع، ادارات، موسسات و شركتهاي مختلط و كنترول از تحقق عوايد و چگونگي صحت مصارف، قانون كنترول و تفتيش توشيح و نافذ گرديد.

اداره كنترول و تفتيش پس از پيروزي تحريك طلباي كرام سعي نموده است تا اجراات خود را بمنظور كنترول و تفتيش از فعاليت هاي مالي و اقتصادي ادارات و موسسات از لحاظ قانونيت، معقوليت اقتصادي، صحت مصارف انجام شده و مؤثريت آن، تحقق هدفها و شاخص هاي پلاني تأمين حفاظت دارايي هاي عامه اعم از نقد و جنس جهت جلوگيري از سو استفاده و حيف و ميل وضايعات و خسارات از يكطرف و از جانب ديگر استفاده معقول و موثر از داشته ها و دارايي ها به نفع رشد اقتصاد و بهبود شرايط زندگي در كشور عيار نمايد و به منظور تحقق بخشيدن اهداف فوق و حراست از دارايي عامه و بيت المال مقامات محترم رهبري امارت اسلامي همواره مواظبت و توجهات شانرا در اين راستا با صدور فرامين و احكام به تمام مراجع و دواير امارتي رساً ابلاغ داشته اند و از همكاري با مفتشين تاكيد بعمل آمده است. اداره كنترول و تفتيش با داشتن كادر هاي مسلكي داراي تحصيلات عالي از ساليان متمادي باينطرف عضو سازمانهاي INTOSAI (سازمان بين المللي مؤسسات عالي بررسي) ASOSAI (سازمان آسيايي مؤسسات عالي بررسي) و ECOSAI (سازمان اقتصادي) بوده و با سازمانهاي مذكور همكاري متقابله دارد .

همچنان بخاطر ارتقاي سطح دانش مسلكي اين اداره همواره كورسهاي آموزش قصير المدت كه از طرف استادان پوهنتون كابل و مفتشين اين اداره تدريس مي شوند، داير نموده است .

مسافرت سه روزه ...

مظاهره كننده گان در پاريس همچنان موفق شده اند پارچه بزرگ را كه به روي آن نوشته شده بود مرگ به خاتمي بالاي يك عمارت بزرگ آويزان كنند. پس از سال ۱۹۹۷ ميلادي اين اولين سفر يك رهبر ايران به فرانسه ميباشد.

د نور روغتون د سترگو ...

عامي روغتيا رياست په تالار كي پر ځاي شوي و د خوست ښاروال محترم محمود آغا او دغه راز ددغه ولايت د عامي روغتيا د روغتيايي خدمتونو په برخه كي د اسلامي امارت د نيكو اقداماتو په باب خبري وكړي

يو مربوط خبر ځاي وويل دغه سرويس چي په روغتيايي سامان الاتو سمبال دي لس بستري لري او د سترگو د هر ډول ناروغانو منلو ته تيار دي

په يوگوسلاويا ...

مشران په پام كي لري چي تن د يكشنبي په ورځ د بلگراد او د نوويشاد په ښارونو كي هم دغه شان مظاهري پيل كړي .

دوي غواړي د امريكا متحده ايالاتو ته د پنځه ورځني سفر لپاره دغه هيواد ته لاړ شي.

په چيچين كي ...

امله دغه راز د چيچن زيات شمير مهاجرين تيپان شويدي.

د روسيي هوايي بريدونه پرون په داسي حال كي د چيچن د ځواكونو پر ضد دوام درلود چي د چيچن مبارزينو د روسيي د عسكرو د تيري په وړاندي د خپلو سنگرونو كلكه دفاع كوله .

د يو بل خبر له مخي د امريكا د متحده ايالاتو او انگلستان او يو شمير نورو هيوادونو په چيچن باندي د روسيي د بريدونو په دوام كلكه نيوكه وكړه او د چيچن د مسالي د سوله ييز اواري غوښتونكي شول .

د كولمبيا يوه ...

خبر له مخي دغه كولمبيا بي تبعه دغه جنايتونه د كولمبيا د يو وسوايالتونو په شپيتو ښارونو كي كړيدي.

پوليس تر اوسه پوري ددغه جنايتكار لخوا د يو سلو ځوارلسو تنو قرباني شويو ماشوماتو د بقاياوو په كشفولو بريالي شويدي.

ددغو وژنو په باب ددغه كولمبيايي تبعه هدف او انگيزه تر اوسه پوري نده معلومه شوي.

په چين كي د مذهبي ډلو پر خلاف يو قانون تصويب شو

په پيكنگ كي د فلون كونگ د ممنوعه دلي د پرله پسي اعتراضونو په خاطر پرون د چين د پارلمان لخوا د كوچنيو مذهبي ډلو ضد يو قانون تصويب شو . د چين كنگري ددغه هيواد قضايي مقاماتو او پوليسو ته لارښوونه كړيده چي دغه كوچني مذهبي ډلي له منځه يوسي. ددغه قانون له مخي ددغو ډلو مشرانو ته سزا وركول كيږي او پيروان به يي نه سره وروزل شي. پرون هم د فلون كونگ د مذهبي لړۍ كي ډلي يو شمير پيروان د پوليسو لخوا ونيول شول. دغو افرادو د المان د سولي په نامه د كركي په مظاهرو لاس پوري كړي و .

دغه مذهبي لړۍ كي ډله چي په حقيقت كي بوداپان دي د دولت ضد فعاليتونو په خاطر منع كړاي شويده .

يكمقدار كافي گندم ...

خانه ها و دواير امارتي تقاضا ميگردد تا لست كارمندان مستحق مربوط را با ذكر اسم ولد، وظيفه و نمبر تذكره با تصديق اداره مربوط هرچه زود تر به كميسيون خاص جمعيت عالي افغاني سره مياشت كه بدين منظور توظيف گرديده اند واقع پل ځارنل ارسال نمايند.

پنج تن از قاريان طي ...

درگاه ايزد لايزال استدعا نمودند.

در دارالحفاظ ولسوالي زرمت فعلاً يكصدو پنجاه تن طالب العلم مصروف فراگيري علوم ديني و عصري بوده كه از جمله چهل تن آن بطور ليليه و متباقي آنها به شكل نهاري بوده كه در بخش هاي حفظ و تجويد قرآن كريم توسط استادان مجرب و علماي جيد تدريس ميگردند.

در ختم مراسم دستار فضيلت بر سر پنج تن از قاريان دارالحفاظ متذكره بسته گرديد.

د هيواد د لوړو زده ...

د مركزونو او حوزو د جوړيدو په باب د دولسمو ټولگيو د فارغانو د محكمي خبرتيا په خاطر د كانكور د ازموينو اجرائيوي كميټي د لوړو زده كړو د وزير محترم مولوي حمد الله په مشري او د لوړو زده كړو وزارت د علمي او تدريسي معين محترم قاري ذبيح الله زاهد په گډون تمايبري پلان تصويب كړ او د هغو له مخي د ۱٤۲۱ هجري قمري تحصيلي كال لپاره چي د ۱۳۷۹ هجري لمريز كال سره سمون خوري د ټولو شاملو د كانكور ازموينه د كابل - جلال اباد كندهار ، مزار شريف، هرات ، خوست او كندز د حوزو په گډون په اوو حوزو كي د روژي د مباركي مياشتي له راريسيدو مخكي اخيستل كيږي .

له مجوزه پلان سره سم د لوړو زده كړو وزارت د محصلانو د جذب رياست موظف شوي دي چي د رواني مياشتي په بهير كي د هغو ټولو ديني عمومي او مسلكي مدرسو د طالب العلمانو دقيقه احصائيه چي د لا ست په درشل كي دي د پوهني وزارت په همكاري برابره او د هغي له مخي د كانكور د حوزو برخوالو د گروپ بندي د لستونو برابرول او مقدماتي سمونه بشپړ او په ټاكلي وخت كي عملي كړي .

شوراي نظامي مسؤولين ...

بحث و تبادل نظر صورت گرفته و در زمينه **تصاميم لازم اتخاذ و بمراجع مربوط سپرده شد.**

درين شورا محترم الحاج محمد عارف خان والي ولايت كندز، محترم ملا عبدالرزاق نافع مسؤول نظامي ولايات كندز - بغلان ، محترم مولوي عبدالمنان نيازي والي ولايت كابل، محترم ميرزا محمد ناصري قوماندان امنيه ولايت كندز، محترم قوماندان بشير خان و برخي از مسؤولين خطوط جبهات آنولايت اشتراك ورزيده بودند.

د فوايد عامي محترم ...

پله په سيمه كي د كابل جلال آباد د لويي لاري د پخولو د كار بهير وكوت او د كار د گرندي كولو په لاره كي يي د افريد موسسي له رئيس محترم سردار زمري شهيد سره خبري وكړي.

د گډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

تبصره

كه اسامه له هيواد نه ولاړ هم شي د امريكي د پلمو كتار به لا اوږد پاته وي

له كومي ورځي نه را پديخوا چي په افغانستان كي اسلامي نظام حاكم شويدي او په افغانستان كي د جنگ او لوبديځو سكيلاكي هيوادونو خوبونه بي تعبيره پاتي شوي د تريوال سكيلاك په وجود كي د اور لمبه بله ده او له هماغي ورځي راهيسي يي د پلمو، فريبونو، پلانونو او طرحو په جوړولو لاس پوري كړي دي تر څو خداي مكړه د افغانستان اسلامي امارت له پښو وغورځوي . د افغانستان په كورنيو چارو كي يي لاسوهني او مداخلي د رسوايي له پولو هم واوښتي د ول د ول پلمي ورته كوي چي په سر كي او تر ټولو غټه پلمه يي په افغانستان كي د ميشت عرب مجاهد اسامه بن لادن شتون عنوانوي امريكا غواړي چي د افغانستان اسلامي امارت په هر ډول چي كيږي بايد اسامه بن لادن د محاكمي لپاره متحده ايالاتو ته وسپاري . امريكا د ټولو بين المللي اصولو څخه په سر غړونه په دي اړه په اسلامي امارت او افغان مجاهد ولس باندي له هر ډول فشار راوړلو څخه ډډه نه ده كړي په هغه مجاهد، خوارځلي او غيرتمن ولس يي اقتصادي بنديز ولگاوه چي د وړي له بركته هسكي سرگي گرځي او ځان د نړي يوازيني او بي سياله ځواك بولي كه څه هم د افغانستان اسلامي امارت په دي اړه د امريكا ددي غوښتني او الديښي په وړاندي ډير معقول او له كفايت او درايت نه ډك گامونه واخستل او له هماغه لومړيو شيبو څخه يي ددي قضيي د معقول حل لپاره بيلابيلي طرحي وړاندي كړي، مناسب گامونه يي واخستل او دايي په عمل كي ثابته كړله چي دوي په ريښتيا هم غواړي د اسامه موضوع د خبرو اترو او تفاهم له لاري حل كړي او د منطق ځاي بايد احساساتو ته پري نښودل شي . د بيلگي په ډول اسلامي امارت په لومړي قدم كي ټولو نړي ته اعلان وكړ چي كه څوك د اسامه مجرم بولي او غواړي چي محاكمه شي نو د خپلو اسنادو او شواهدو سره دي د افغانستان ستري محكمي ته مراجعه وكړي او په دي اړه يي ستري محكمي ته پوره واك او صلاحيت وركړ خو نه يوازي دا چي څا د اسامه په اړه څه اسناد او شواهد وړاندي نكړل بلكه هيڅوك عارض هم پيدا نشول د اسلامي امارت دوهم گام دا و چي په اسامه يي بشپړ بنديز ولگاوه او له هغه څخه يي هر ډول ارتباطاتي وسايل واخستل خو بيا هم امريكايانو قناعت ونكړ .

اسلامي امارت په دي خاطر چي حاكمه كړكيچنه فضا ختمه شي او د امريكا پلمي پاي ته ورسيږي نو وړانديز يي وكړ چي د افغانستان او سعودي په شمول د دريو هيوادونو جيد علما دي سره كښيني او د اسامه د برخليك په اړه دي تصميم ونيسي خو امريكا د عاليقدر امير المؤمنين په دي وړانديز هم هيڅ غور ونه گراوه .

د اسلامي امارت څلورم وړانديز دا و چي امريكا خو هم د اسامه د مجرم گڼلو لپاره هيڅ [illegible] نلري او په حيله امريكا هم وايي چي اسامه مجرم نه بلكه نور دي [illegible] اسلامي [illegible] چمتو دي چي له امريكا سره د تده هم له مخي په گډه هغه لاره عملي كړي چي امريكا [illegible] په وينا د اسامه له گوابي څخه مطمئنه كيږي يعني په هره لاره چي امريكايان مطمئن كيږي چي په راتلونكي كي د دوي په وينا د اسامه له گوابي څخه خلاصيږي نو اسلامي امارت چمتو دي چي همكاري ورسره وكړي .

خو امريكا بيا هم د اسلامي امارت له دومره انعطاف او تنازل څخه سترگي پټوي او هغه د جا خبره دواره پښني يي په يوه موزه كي ننويستي او خپلي زړي خبري تكراروي.

امريكا بايد د افغانانو كلتور، ملي غرور دين او مذهب او ملي روايات په پام كي ونيسي او داسي لاره خپله كړي چي د افغانانو پورتني ارزښتونه په كښي خوندي وي خو داسي ښكاري چي د افغانستان له اسلامي امارت سره د امريكا پاتو د ښمني انگيزه يوازي اسامه، نه وي او امريكا تر كاسي لاندي نيم كاسه وي كه داسي نه واي نو امريكا خو تر اوسه هسدا چيغي او نانډري وهلي چي اسلامي امارت دي اسامه له افغانستان نه وباسي خو كله چي د جمعي په ورځ د رجب المرجب په شلمه خبري سرچينو خبر وركړ چي اسامه عاليقدر امير المؤمنين ته د يو ليك په ترځ كي ليكلي دي چي غواړي له افغانستان څخه ووزي نو پر ته له دي چي د ليك او موضوع نور جزئيات څرگند شي امريكايي مقاماتو په ډيره بيړه او په پوره بي صبري څرگنده كړه چي «يوازي دا كار به د واشنگټن له لوري د په رسميت پيژندلو خبره راته كاري» د جيمز روبين له دي وينا څخه ښكاري چي كه اسامه له افغانستان څخه ووزي نو بيا هم دوي به اسلامي امارت په رسميت ونه پيژني او نه به د اسامه وتل د دوي د پلمو پاي وي : د جيمز روبين د دروښيو څرگندونو په استناد وايو چي امريكايان حتي له افغانستان څخه د اسامه وتل هم د حل لار نه بولي نو حيران يو چي دا د حل لاره به كومه وي ؟

په پاي كي زمونږ هيله له امريكايي مقاماتو څخه يو ځل بيا هم داده چي له تعقل او درايت نه كار واخلي او په دي پوه شي چي اقتصادي بنديزونه خو څه چي عيني مرگ هم افغانان له خپلو ديني ارزښتونو او ملي رواياتو څخه اړولي نه شي اوس ددي وخت نه دي چي مسايل د زورله لاري حل شي ښه دا ده چي د هري ستونزي حل په تفاهم ، خبرو او دوستانه فضا كي ولټول شي.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press